السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# الله جل جلاله به ځمکه په خپله قبضه کې ونيسي، او اسمانونه به په ښي لاس کې نچه کړي، بيا به وفرمايي: زه پادشاه يم، چېرته دي د ځمکې پادشاهان

له ابوهریره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «الله جل جلاله به ځمکه په خپله قبضه کې ونيسي، او اسمانونه به په ښي لاس کې نچه کړي، بيا به وفرمايي: زه پادشاه يم، چېرته دي د ځمکې پادشاهان».
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي د قيامت په ورځ به الله جل جلاله ځمکه ونيسي او راغونډه به يې کړي، او اسمانونه به په خپل ښي لاس کې نچه کړي او يو د بل د پاسه به يې راتاو کړي او لرې به يې کړي او له منځه به يې يوسي، بيا به وفرمايي: زه پادشاه يم، چېرته دي د ځمکې پادشاهان؟!

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65028

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee